د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

امارت اسلامی افغانستان

وزارت تحصیلات عالی

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د استادانو چارو آمریت

ګڼه: ۵۱۱ – ۵۱۷

نېټه: ۱۴۴۴/ ۷ / ۲۲

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ بلاغیه ☐

موضوع: د اخلاقي اصولو پالیسۍ تائیدي

**د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې محترم ریاست ته !**

اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

محترما! د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د اخلاقي اصولو پالیسۍ د مؤسسې د علمي شورې په (۲) پروتوکول ۱۴۴۴/۶/۲۵ هـ ق نیټه کې د کتلو وروسته تائید شوه چې داده ددي لیک سره مل یې په (۷) ورقو کې ستاسو محترم معاونیت / ریاست / آمریت ته د ورستیو اجرأتو په موخه درلیږو.

په درنښت

پوهنمل حمد الله حمیم

**د علمي او محصلانو چارو مرستیال**

**کاپي : د مالي او اداري چارو معاونیت ته!**

**کاپــــې: د ښووني او روزنې پوهنځۍ محترم ریاست ته!**

**کاپــــې: د اقتصاد پوهنځۍ محترم ریاست ته!**

**کاپــــې: د کرهنې پوهنځۍ محترم ریاست ته!**

**کاپــــې: د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو آمریت ته!**

**کاپــــې: د څیړنې او تحقیق محترم آمریت ته!**

آدرس: دولایت مقام پخوانی ودانی ،دمخابراتو او معلوماتی تکنالوژی ریاست مخ ته ،قلات ښار ،افغانستان

ایمیل: Fzazalmohammadfazli12@gmail.com

اړیکې : ۰۷۰۷۴۳۱۹۷۹

د افغانستان اسلامی امارت

د لوړو زده کړو وزارت

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه

د مالي او اداري چارو معاونیت

# اخلاقي اصول او پالیسي

کال: ۱۴۴۴ هـ ق

# سریزه

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه داسي یو علمي چاپیریال دی چی هغه کښي په لسگونه استادان، سلگونه محصلین، اداری او خدماتي کارمندان په تدریس، زده کړه او خپلو خلکو ته په خدماتو وړاندي کولو بوخت دي. په داسي یو چاپیریال کښي د د رسمي قوانینو، مقرراتو، لایحو او طرزالعملونو ترڅنگ د اخلاقي اصولو جوړښت او موجودیت چي د موجوده قوانینو په رڼا کښي جوړ سوي وي، حتمي او ضروري گڼل کېږی. په وروستیو کلونو کښي په پوهنتونونو کښي د محصلینو تعداد زیات سوی دی او یو نوی رنگ یې اخیستی دی، په داسي حالت کښی د تدوین سوي قوانینو ترڅنگ د اخلاقي اصولو او پالیسیو شتون کولای سی چي تر ډېره د مؤسسې ستونزي حل کړي.

علمي بنسټونه د تحصیلي خدماتو د وړاندي کولو او اکاډمیک محیط د رامنځته کولو مسؤلیت لري. د داسي محیط له پاره ځیني قواعد او اصول په ملي او نړیواله سطحه تعریف سوي دي او په تحصیلي بنسټونو کښي تطبیق کېږي. د نوموړي اصولو په تطبیق سره د اکاډمیکو او غیراکاډمیکو محیطونو ترمنځ توپیر واضح کېږي او د غیر اکاډمیک محیط له پاره به الهام بخښونکی واوسي. د یو تحصیلي مرکز له پاره اړینه ده چي د ملي او نړیوالو نورمونو په تعریف او تطبیق سره داسي چاپیریال رامنځته کړي، چي وکولای سی د شفافیت، تعادل، زده کړي او علمیت د نښانو څخه ډک او پکښي د ټولو له پاره د جذابیت او قناعت نقاط نغښتي وي.

د یوه علمي چاپیریال د پورته ذکر سوي ارزښتونو او اړتیا ته په کتو سره میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د خپلو استادانو، اداري کارمندانو، او محصلینو له پاره اخلاقي پالیسي ترتیب کړه او د تطبیق له پاره یې په پوره ژمنتیا سره هڅي کوي ترڅو د یوه عملي چاپیریال په درلودلو سره د ټولني په وړاندي خپل مسؤلیت ادا او د محصلینو د مسلکي روزني سربیره د علمي او باکفیته اخلاقو ترویج او هم تظمین کوي. میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اخلاقي پالیسي د تضمین کیفیت د ۳م اصلي معیار او ۴م فرعي معیار پر بنسټ او د لوړو زده کړو وزارت د نظم او ډسپلین د لایحې مطابق ترتیب سوې ده.

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اخلاقی پالیسي د لاندي دوولس اهدافو له پاره تنظیم او تطبیق کېږي:

1. اسلامي مقدساتو او اصولو ته درناوی
2. د علمي نورمونو تطبیق
3. بشریت ته احترام
4. د اسلامې شریعت د قانون په اساس جنسي تعادلړ
5. د هر ډول فساد څخه مخنیوی
6. د سالمو انتقادونو منل
7. د واسطه بازی او قومي چلند څخه مخنیوی
8. د صمیمت او همدلۍ فضا رامنځته کول
9. ژمنو ته وفادراه پاتي کېدل او د گډ کار له پاره د مناسب چاپیریال رامنځته کول
10. په اداره کښی د همږغۍ د اصل تطبیق او پالل
11. د اسلامې شریعت په چوکاټ کې فردي ازادي او د خصوصي حریم ساتنه او درناوی

## فهرست

شماره عنوان صفحه


1. سریزه.......... أ
2. لومړی څپرکی .......... 1
3. د رهبرۍ د غړو لپاره اخلاقي معیارونه:.......... 1
4. د اخلاقو تعریف: .......... 1
5. لومړی ماده: .......... 1
6. دوهمه ماده: .......... 1
7. درېیمه ماده:.......... 1
8. څلورمه ماده: .......... 1
9. دوهم څپرکی.......... 2
10. د استادانو له پاره اخلاقي معیارونه: .......... 2
11. پنځمه ماده:.......... 2
12. شپږمه ماده:.......... 3
13. دریم څپرکی .......... 3
14. د اداري کارکوونکو له پاره اخلاقي معیارونه: .......... 3
15. اوومه ماده: .......... 3
16. اتمه ماده: .......... 4
17. څلورم څپرکی.......... 4
18. د محصلینو له پاره اخلاقي معیارونه: .......... 4
19. نهمه ماده:.......... 4
20. لسمه ماده:.......... 4

# لومړی څپرکی

## د رهبرۍ د غړو لپاره اخلاقي معیارونه:

**د اخلاقو تعریف:** د اسلام له نظره اخلاق د انساني سلوک د هغو قواعدو او مبادیو مجموعه ده چې مصدر او اساس یې الهي وحي وي، دا قواعد د انسان ژوند تنظیموي او په داسې ډول له نورو سره دده د تعامل تګلاري او حدود ټاکي چې په نړۍ کې د انسان د وجود او خلقت اصلي هدف متحقق کړي. یعني اخلاق له " الهي وحي " راوتلي هغه قواعد دي چې هم د انسان ژوند تنظیموي او هم یې د نورو سره د تعامل حدود ټاکي، دا ټول په داسې ډول چې نړۍ ته د انسان د راتګ اصلي هدف پر ځای شي.

### لومړی ماده:

د میرویس خان نیکه زابل لوړو زده کړو مؤسسې د رهبري غړي د فوق العاده اهمیت وړ دي، ځکه د یوې سالمې ادارې په رأس کې قرار لري. په همدې اساس د رهبري د غړو له پاره د لاندي مواردو مراعت کول اړین بلل کېږي:

۱- د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري تر لاس لاندي ( استادان، کارکوونکي او محصلین) اشخاصو ته د یو منظم او اکاډمیک چاپېریال د برابرولو دنده لري.

۲- د مؤسسې مشرتابه د غوره اشخاصو په ګمارلو، د فساد څخه د خلاصون، د اخلاقي او اداري فساد پر وړاندي د کلکي مبارزې په برخه کي خپلي هڅي کوي.

۳- د مؤسسې رهبري اړخ باید اخلاقي ارزښتونو ته په هره برخه کي ځای ورکړي.

۴- د مؤسسې رهبري باید د اخلاقي ارزښتونو د روان تابع وي؛ د تقرر، ترفیع او امتیازاتو پوره ملاتړي وي.

۵- د مؤسسې رهبري، چې هر کله د اخلاقې معیار څخه خلاف یو عمل ووینې، باید له استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو سره قانوني چلند وکړي.

٦- د مؤسسې رهبري باید د سلسله مراتبو اصل په نظر کي ولري. همدا رنګه د لوړ اخلاقي معیار لپاره هڅي وکړي او ټول اشخاص خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړي. په هره تحصیلي دوره کې باید محصلینو ته د خپلې مؤسسې ټول مقرارت وروپېژني او د هغوی څخه تعهد واخیستل سي، تر څو د تحصیل په جریان کي د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د پالیسې سره سم خپله تحصیلي دوره پای ته ورسوي.

### دوهمه ماده:

سالمه اداره هغه اداره ده، چې اخلاقې اصول او ضوابط عملي کړي. د مؤسسې رهبري، چې د اخلاقي اصولو سره اشنا ده او خپله یې هم دغه ضوابط پر ځان منلي دي، نو دوی مکلف دي، چې اداري کارکوونکي، استادان او محصلین په دې امر کړي، چې دوی هم دغه لاره تعقیب کړي، تر څو یوه بانظمه اداره رامنځته سي.

### دریمه ماده:

د مؤسسې رهبري او مشرتابه باید خپل نظر پر نورو ونه تپي، نور هم له دې لاري منع کړي او په یوه اکاډمیکه ساحه کي د صمیمیت، غوره اخلاقو، ښه تدریس، ښې روزنې او علم فضا خپره کړي.

### څلورمه ماده:

کوم وخت، چې د رهبرۍ هر غړی له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي، د لوړو زده کړو د مقرارتو له مخې باید اړوندو مسؤلینو ته جواب ورکړي.

## دوهم څپرکی

## د استادانو له پاره اخلاقي معیارونه:

### پنځمه ماده:

استاد په علمي او اکاډمیک ماحول کې تر ټولو مهم او وړ کس دي. استاد په ټولنه کې تر ټولو عالي شخصیت بلل کیږي. په یوه اکاډمیکه ساحه کې استاد باید د خپلې دندې د ښه ترسره کولو له پاره لاندې موارد مراعت کړي:

۱- څرنګه چې استادي یو سپېڅلې دنده ده نو باید ددې مقدسې وظیفې د حیثیت ساتلو لپاره استادان د ټولنې لپاره ځانونه یوه نمونه جوړ کړي یعنې صورت او سیرت د اسلامي شرعې په مقتضاء جوړ کړي.

۲- خپلې دندې ته وفادارې او خپله دنده په ایمانداري ترسره کول، د استاد له اکاډمیکو اخلاقو څخه شمېرل کیږي.

۳- استاد باید تقواداره، اخلاص مند او د خپل مسلک سره پوره بلد وي، که کوم وخت استاد پورته موارد په ځان کې عملي نه کړي، محصلین له استاد څخه هیڅ نسې تر لاسه کولای.

۴- استاد، چې کوم وخت محصلینو ته تدریس کوي، باید په پوره اخلاص او ایمانداري یې ترسره کړي. کله چې محصلینو ته تدریس کوي، باید داسې برخورد ونه کړي، چې د استاد حیثیت ورسره له منځه ولاړ سي.

۵- استاد باید په خپله ښوونه کې رېښتنی وي، څکه علمي مطالب پوره دقت او اصلي منابع غواړي.

٦- استاد باید د قانون او وخت پابند او لوړ اهداف ولري.

۷ - استاد باید هر وخت د عدالت پلوی وي او له محصلینو سره بې عدالتي ونه کړي او هیڅ وخت خپل لوړ مقام تر پوښتنې لاندې رانه ولي.

۸ - استاد باید له خپلو همکارانو، هم مسلکو ، اداري کارکوونکو سره د مینې، وروری، عاطفي له مخې اړیکې ولري او اړیکې یې باید د اخلاقو پر معیار برابرې وي.

۹ – استاد باید هیڅکله غرور، تکبر، حسد، سخت خوی، تعصب(سمتې، قومې، نژادې، جنسې...) او له غوره اخلاقو بده استفاده ونه کړي . په ټولنه کې باید غیري شرعې یا هم غیري اسلامي او انساني اعمال تر سره نه کړي.

۱۰- استاد باید له ټولو استادانو، کارمندانو او محصلینو سره ښې اړیکې ولري، پر هیڅ کس او فرد باید مسخرې ونه کړي ( شخصیت وژنه) او توهین ونه کړي.

۱۱- استاد د تدریس سره سره باید محصلینو ته غوره او نیکې لارښوونې ورکړي او هر وخت پر شریعت التزام ، ښو اخلاقو، تواضع، مقابل احترام او مؤمن دوستۍ باندې تأکید وکړي.

۱۲- استاد باید د خپلو احساساتو او نظر مطابق تدریس ونه کړي، بلکې د تدریس د مېتود له مخې درس ورکړي، تر څو محصلین په ښه شان زده کړه یا پوهه تر لاسه کړي.

۱۳- استاد باید ډېر مهربانه او زړه سواند واوسي، د خپلو محصلینو په پرمختګ او کامیابۍ خوشحاله وي ، هر وخت یې تشویق کړي او له تحقیرولو څخه یې ځان وساتي.

۱۴ - استاد باید انتقاد کوونکی او د هغه منونکی وي.

۱۵ - استادان یوه مقدسه دنده پرمخ وړي، نو باید ډېره حوصله، استقامت ولري، تر څو دغه سپېڅلې رسالت یې سم پر مخ وړی وي.

١٦ - استاد باید د محصلینو د مشکلاتو د حل لپاره مرستندوی وي او هیڅ ډول مرسته له زده کوونکو ونه سپموي.

۱۷ - استاد باید نوښتګر وي، تر څو په خپل مسلک کې نوي او مفید څه تر خپلو زده کوونکو پورې ورسوي.

۱۸ - استاد باید هر وخت د محصلینو د راز ساتونکی وي.

۱۹ - وفادارې او رېښتنولې د معلم خاص صفت دئ، استاد باید یاد رسالت مقدم وبولي.

۲۰ - استاد باید له هر ډول تبعیض څخه خلاص وي، ټول محصلین یوشان وبولي، یوازې هغه محصلین غوره وبولي، چې په خپلو درسونو کې پوره کوښښ کوي او غوره اخلاق ولري.

۲۱ - استاد په مؤسسه کې د رهبرۍ په مقام کې ځای لري، نو په دې اساس استاد د ژبې او قلم ابرو او عزت دي، هر څوک چې له استاد څخه ځه زده کوي، په ټولنه کې پر هغه حساب کېږي.

۲۲ - استاد د زده کوونکو نظریات اوري، د ښه نظر ستاینه کوي او کم رنګه نظر په سالم ډول اصلاح کوي.

۲۳ - استاد په مؤسسه کې د محصلینو ټول حالت درک کوي او د هر محصل ضعف او قوت نقطې ورته معلومېږي، نو د وخت په تېریدو باید د ټولو کمزورو نقاطو د اصلاح له پاره کار وکړي.

۲۴ - استاد باید هر محصل درک کړي ، د هر یوه محصل رفتار، خبرې او چلند باید وګوري او وپېژني.

۲۵ - استاد باید د محصلینو په ستونزو باندې ځان خبر کړي او د امکان تر حده په ستونزو کې کمک ورسره وکړي او مشکل یې حل کړي.

**شپږمه ماده:** کوم وخت چې استاد له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي د لوړو زده کړو د مقرارتو له مخې باید اړوند مسؤلینو ته ځواب ورکړي.

## دریم څپرکی

## د اداري کارکوونکو له پاره اخلاقي معیارونه:

### اوومه ماده:

اداري اخلاق، امانت ساتل، ښه خدمت کول، مسؤلیت پېژندل، اصولي چارې ترسره کول، انساني مینه ( الحب فی الله والبغض فی الله ) ، د عدالت پلوي او داسې نور اصول، چې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه یې د خپلو اداري کارمندانو لپاره غوره ګڼي.

لاندې څو مهم ټکي دي، چې د لوړو زده کړو مؤسسې د یو کارمند لپاره اړین دي:

۱ - د اسلامي شریعت احکامو او غوښتنو ته التزام او له هر ډول غیر اخلاقي کړنو څخه پاک وي.

۲ - وخت پېژندونکی، مسؤلیت پېژندونکی او په کاري ساحه کې ډېر آرام شخصیت وي.

۳ - د اداري اسنادو حفاظت کوونکی وي.

۴ - د نظم او ډیسپلین پوره مراعات کوونکی وي او په کاري ساحه کې منظم وي.

۵ - د هغو کسانو سره، چې مؤسسې ته د یو کار د اجراء لپاره راځي، باید ښه رویه او سلوک ورسره وکړي.

۶ - په کارونو کې چټک او دقیق وي.

۷ - تل د خپل کار په اړه معلومات ولري، د نورو مشورې واوري او مشورې ورکړي.

۸ - د خپلو همکارانو په کارونو کې پوره همکار وي.

۹ - انتقاد او پیشنهاد کول باید په ښه ډول ترسره کړي.

۱۰ - د اداري د ټولو تجهیزاتو ساتنه کوي او د اصولو پابند وي.

۱۱ - له ادارې اجناسو څخه شخصي استفاده باید ونه کړي ( ټلیفون، کمپیوټر...)، یوازې د ادارې کار لپاره ده.

۱۲ - د ټولو مربوطه آمرانو او تر لاس لاندې پرسونل سره همږغي درلودل.

۱۳ - د ادارې سره یې چې کوم قرارداد کړی، باید پر هغه اصولو ولاړ وي.

۱۴ - د اړتیا په صورت کې اداري کار ،که له مؤسسې دباندې وي او که دننه، باید ترسره یې کړي.

۱۵ - په غیر رسمي وخت کې، که چېرې په اداره کې اړتیا پیدا شي، باید د کار لپاره حاضر سي.

۱۶ - کله چې په رسمي او غیر رسمي وخت کې له اداري وځي، باید مربوطه آمر سره په اړیکه کې سي.

۱۷ - په اداره کې هر کارکونکی خپل د کار لپاره وظایف لري، باید په منظم ډول یې ترسره کړي.

**اتمه ماده:** کوم وخت، چې اداري کارمند له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي، د لوړو زده کړو د مقرارتو او د ملکي اداري د کارکونکي چلند د اصولو له مخې باید اړوند مسؤلینو ته جواب ور کړي.

## خلورم څپرکی

## د محصلینو له پاره اخلاقي معیارونه:

**نهمه ماده:** محصلین د یو هیواد لویه بشري سرمایه بلل کېږي، نو ځکه ددې قشر سالـمه رزونه د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې لومړیتوب دي. د محصلینو لپاره د لاندې اخلاقي اصولو مراعتول مهم دي:

۱ - محصل باید په علمي ماحول کښې د اوسېدلو او درس ویلو په وخت ټول اصول پرځان تطبیق کړي. محصل به هغه څوک وي، چې هیڅ بدبیني او منفي فکر ونه لري.

۲ - د مؤسسې په داخل کې به داسي لباس اغوندې ، چې د ټولنې وګړې ورسره حساسیت ونه لري.

۳ - زغم او روښانه فکر به لرې ، پاکوالې او نظافت ته به جدي پاملرنه کوي.

۴ - اصول او مقرارت به منې او احترام به يېکوي.

۵ - با آدبه به وي، د مؤسسې اداري کارمندانو، مشرتابه، استادانو او نورو محصلینو ته به احترام لري.

٦ – په اکاډمیک چاپېریال کې به د نورو ازارولو او تکلیف رسولو څخه ځان ساتي.

۷ - په مؤسسه کې د سامان آلاتو او نورو وسایلو ساتونکی وي.

۸ - کوم څه د استاد له خوا ورته تدریس کېږي، محصل باید دا تعهد له ځان سره ولري چې په ښه یې شکل یې زده کړي.

۹ - په مؤسسه کې د ټولګي، کتابتون، د درسي وسایلو او نورو اشیاوو څخه باید مثبته استفاده وکړي.

۱۰ - ښه اورېدونکی وي او د درس په جریان کې د استاد سره ښه برخه واخلي.

۱۱ - د حاضرې پابند وي ، پر وخت ټولګي ته راسي او پر وخت بېرته له ټولګي څخه ووځي.

۱۲ - د خپل ظرفیت لوړاوي په برخه کې متوجه وي.

۱۳ - په خپلو چارو کې فعال وي او د ورسپارل سوي دندي پر وخت اجراء کوونکی وي.

۱۴ - په مؤسسه کې د ننه د پټو او سیاسي اړیکو پالونکی نه وي.

۱۵ - د فعاله محصل په توګه خپل ټول درسي مواد له ځان سره ولري.

۱٦ - د هر ډول قومي، ژبني، سمتي او نور تعصبونو څخه پاک وي.

**لسمه ماده:** کوم وخت، چې یو محصل له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي د لوړو زده کړو د مقرارتو له مخې باید اړوند مسؤلینو ته جواب ورکړي.

**پورته د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اخلاقي پالیسي د علمي شورا په (۲) ګڼه پروتوکول او۲۵/۱/۱۴۴۴ نېټه تائید او د تطبیق وړ ده.**

**په درنښت**

**روح الله مشال**

**د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس**